ډاکټر عبدالرحمن زماني

د ۲۰۱۴ کال د اکتوبر د میاشي ۲۵مه نیټه

# دغازي امان الله خان د اورګاډي پروژې ته یوه کتنه
## (د منځنیو پیړیو څخه د ټولنې د راویستلو د پلانونو یوه بېلګه)

### سریزه

دامیر حبیب الله خان تر وژل کیدو وروسته پر نایب السلطنه سردار نصرالله خان د عین الدوله امان الله خان بریالیتوب، په حقیقت کې پر عنعنوي محافظه کارو باندې د ملت پالو اصلاح غوښتونکو بریې ؤ. ځرنګه چې د یوه نوي سیاسي نظام جوړیدل د مشروطه غوښتنې د غورځنګ یو هدف ؤ، او دغه غورځنګ واک ته د امان الله خان په رسولو کې هم ونډه درلوده، نو ددغه ولسي او ملي پاچا په کاري لومړیتوبونو کې ددغه نوي نظام په سترو موخو کې په لومړي قدم کې د ملي یووالي تامین او تر هغې وروسته د هیواد پرمختګ او ترقي وه .

غازي امان الله خان د یوه خپلواکه مرکزي دولت د جوړیدو، او د قانونیت او مشروعیت موضوعاتو ته د زیاتې پاملرنې په څنګ کې هڅه وکړه چې د پرمختیائي او اصلاحی پلانونو په پلي کولو سره افغانستان په یوه پرمختللي، عصري، ناپیلي، او پر ځان متکي هیواد باندې بدل کړي .

د اوبو رسولو د سیستم دکار پیل، د کانونو د سروې او ویستلو قراردادونه، د ډبرو د سکرو او رخام د کانونو څخه ګټه اخیستل، او د اور د دبلیو، سمنت جوړولو، ځرمنې جوړولو، باروت جوړولو، موټرو د ترمیم، صابون جوړولو، تار جوړولو، د سپېڼسینو او وړینو ټوکرو د جوړولو،کنګل جوړولو، غوړو ویستلو، او وسلې جوړولو په شان د ګڼ شمیر تولیدي او صنعتي فابریکو د جوړولو او په کار اچولو په څنګ کې، د کابل، پغمان، قندهار، او جلال آباد په ښارونو کې د بریښنا د تولید د ستیشنونو تاسیس او د تنې جوړولو، قند جوړولو، د شیدو د محصولاتو د جوړولو او میوو د ساتلو د ماشینونو د واردولو او پکار اچولو، د لومړني پوستي ټکټ د چاپولو او کارولو، د غازي او غزنی د سراج د بندونو د کار سرته رسول، د افغانستان د انقلابي مشر غازي امان الله خان په اقتصادي لاسته راوړنو کې شامل دي، چې ستره هیله یې په افغانستان کې اساسي او بنیادي بدلون راوستل وو.

### د اماني دورې د اورګاډي پروژه

افغانستان سره لدې چې په وچه کې راتاو دئ، د یوه حساسه جغرافیوي – سیاسي موقعیت په درلودو سره، د تاریخ په اوږدو کې د ختیځو او لویدیځو مدنیتونو د یوځای کیدو مناسبه زمینه برابره کړې، او ځرنګه چې د وریښمو د تاریخي سترې او مهمې لارې په تقاطع کې، یعنې هغه لویه لاره چې ختیځه ایشیا یې د لویدیځې ایشیا، او د هند سمندر یې د منځنۍ ایشیا سره نښلولو، پروت وو، د هند د نیمې وچې، منځني ختیځ، مرکزي آسیااو اروپا ترمنځ سوداګرۍ کې یې ستره برخه درلودلې وه. خو زمونږ هیواد د استقلال تر ګټلو وروسته د ترانسپورت په چارو کې د سترو ستونزو سره مخامخ وو. نه یې سیندونه د بیړیو د تګ راتګ وړ وو، نه یې د اورګاډو پټلۍ درلودې، نه د هوایي لیکو او الوتکوخاوند وو، لارې یې هم د غریزو سیمو څخه تیریدې او د ترانسپورت ستره وسیله یې هم قچرې او اوښان وو.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

څرنګه چې غازي امان الله خان د هیواد په اقتصـــادي ژوندانه کې د ترانزیت او ترانســـپورت په مهم رول پوهیدو، نو ځکه یې د ترانسـپورت د سـکټور پراختیا ته خاصـه توجه وکړه، د تلیفون او تلګراف پراختیا، د نوو لویو لارو جوړول او د پخوانیو سـړکونو ودانول، د یو شـمیر پلونو جوړول، د لومړني ملکي هوایي چلند د پروګرام پرانیسـتل، د پوسـتي خدمتونو اصلاح، د کابل او سترو ولایتونو سره د هوایي چلند ټینګول او د کابل او باندنیو هیوادونو لکه ترکیې، ایران، هند، شوروي او نورو سره د هوایي پوستي د لیکو ټینګولو ته یې د خپلو اقتصادي او پراختیایي پروګرامونو په سر کې ځای ورکړ. او ددغه لومړنیو پروژو په ترڅ کې یوه هم د هیواد داورګاډي د پټلیو جوړول وو.



په افغانســـتان کې کې د اورګـاډي لومړنی پټلی د خپلواکۍ د ګټلو وروسـته، لومړنیو کلونو کې جوړه شوه . د نولس سوه شلمې (۱۹۲۰) لسـیزې په سـر کې غازي امان الله خان د جرمنی پـه کـاسـیل ( Kassel) کې د هینشیل ( Henschel) د کمپنۍ څخه د اورګاډو دري کوچني بخاری ماشینونه واخیستل او د کابل د ښار د دهمزنګ د ماشینخانې او پغمان د نوې ښارګوټي تر منځ اوه (۷) کیلومتره لاره کې یې په کار واچول .

د لوکوموتیف د مجلې د ۱۹۲۲ کال د دسمبر دمیاشتې ګڼه د دغه اورګاډی په هکله لیکلي چې «د افغانستان څخه راغلي مســـافر وایي چې د کـابل څخـه د دارالامان نوی ښـارګوټي ته د تقریبا شـــپږو میلو په واټن ا ورګاډي په کار اچول شـــوي او ددغه اورګاډي ځیني واګونونـه خپلـه د کـابل پـه کارخانو کې جوړ شوي دي».



د همـدغـه لوکوموتیف د مجلې د ۱۹۲۸ کال د اګسـت د میاشـتې ګڼې هم لیکلي چې «پـه افغانســـتان کې یواځینی اورګاډي د کابل او دارالامان ترمنځ هغه اورګاډي دئ چې دري کوچني بخاري لوکوموتیفونه یې د جرمنی په کاسیل Kassel کې د هینشیل Henschel د کمپنۍ څخه رانیول شوي دي».

دارالامان د غازي امان الله خان د پاچاهۍ په دوران کې د افغانسـتان نوې اداري پایتخت وو، چې د ۱۹۲۰ مې لسـیزې په لومړیو وختو کې جوړ شـو، او یو شـمیر حکومتی دفترونه، او د شـورا او ښـاروالۍ یوه سـتره تاریخي ودانۍ پکې شامله وه . د دربار غړو او د دولت جګ پوړو مامورینو هم په دغه ښارګوټي کې د استوګنې کورونه جوړ ول .

غازي امان الله خان په افغانسـتان کې د اورګاډو د پټلیو د جوړولو او عصـري کولو سـره مینه درلوده . هغه اروپا ته په سـفر کې د انګلسـتان د اورګاډي د سـیسـتم د کار څخه کتنه وکړه، او غوښـتل یې چې د اورګاډي د نوې تکنالوژۍ په پرمختګ ځان پوه کړي . هغه د اورګاډو د ماشـینونو د جوړولو بیلابیل مراحل ، او په هغو کې د کارول شـوو وسـایلو څخه لیدنه وکړه .

---



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

غازي امان الله خان د ۱۹۲۸ میلادي کال د مارچ د میاشتې د یوویشتمې نیټې تر غرمې وروسته د سویندن (Swindon) د اورګاډو د ماشینونو د ستري کارخاني څخه لیدنه وکړه او د دوهم چارلس د پاچا د ۶۰۰۵ شمیرې د نوي اورګاډي د جوړولو چارې یې وکتلې .




د لوکوموتیف د مجلې د ۱۹۲۸ کال د اګست د میاشتې په رپوټ کې راغلي چې «پاچا امان الله خان د اروپا د سفر څخه وروسته د امریکایي، فرانسوي او جرمني کمپنیو نمایندګان د لویو لارو او اورګاډو د پټلیو د سروې دپاره کابل ته رابللي او اوس اعلان شوي چې د برلین د لنز Lenz شرکت، د افغانستان د ټولو لویو لارو او عمومي اورګاډو د جوړولو او عملي کولو د ترون ګټونکي او ټاکل شویدئ .»

د اورګاډي نړیوالې خپرونې Railway Gazette International د افغانستان د اورګاډي د پروژې تر سرلیکي لاندې د ۱۹۳۰ کال د نومبر د میاشتې په ۶۸۶ مخ کې ولیکل چې «د اورګاډي لومړی برخه چې جرمنیان یې جوړوي، جلال آباد د کابل سره نښلوي . په پای کې به د اورګاډي دا لیکه په پېښور کې د هند د اورګاډي د لیکې سره وصل او تر هغې وروسته به د قندهار او هرات سره د کابل د نښلولو لیکې جوړیږي».

د انګریزانو د استخباراتو ۱۱۷ ګڼه رپوټ د ۱۹۲۸ کال د سپتمبر د میاشتې په اتلسمه نیټه څرګندوي چې « د زهروف باسیل Zaharoff Basil تر مشرۍ لاندې د فرانسې د وسلو د خرڅولو سندیکا موافقه کړې ده چې د کابل نه قندهار ته ، او تر هغې وروسته هرات ته د اورګاډي د سروې کار به د ۱۹۲۸ کال په دوبې کې پیل شي . تر هغې وروسته د مایکل کلیمنسو ( Michel Clemenceau) او ( Pierre Makecheef) پیری مکیچیف تر ریاست لاندې د انجینیرانو یوه ډله کابل ته وبلل شوه. په همدغه استخباراتي رپوټ کې راغلي دي چې د انګریزانو استخباراتو ددغو دوو کسانو سره جوړ جاري ته رسیدلي او له هغو نه یې غوښتنه کړی چې ددغې سروې د چارو او پرمختګ په هکله بریتانیا ته معلومات ورکړي . دغو دوو کسانو د سپتمبر په میاشت کې په پاریس کې د بریتانیا سفارت خبر کړ چې د کابل او هرات ترمنځ سروې بشپړه شویده .

مایکل کلیمنسو د ۱۹۲۹ کال د فبروري په میاشت کې ددغه فرانسوي قرارداد د بشپړولو دپاره بیا کابل ته ستون شو، خو دا وخت حالات بدل او ناوخته شوئ وو. ځکه چې د انګریزانو دسیسې بریالی او غازي امان الله خان د ۱۳۰۷ لمریز کال د جدي د میاشتې په ۲۴ مه نیټه (د ۱۹۲۹ میلادي کال د جنوري په ۱۴ مه نیټه) د سلطنت نه استعفا او یو لړ شمیر وزیرانو او سلاکارانو په ملګرتیا د موټر په وسیله قندهار ته تللي وو.غازي امان الله خان چې په اصل کې د وینې توئیدو سره مخالف وو، په پای کې مجبوره شو چې د تاج و تخت نه لاس واخلي او د هیواد څخه ووځي . د هغه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په خپله وینا «ما هیڅکله ندي غوښتلي چې افغان ملت دې زما د شخصي ګټو دپاره یو د بل سره جګړه وکړي او تباه شي».

غازي امان الله خان د ۱۳۰۸ کال د غبرګولي د میاشتې په دوهمه نیټه چې د ۱۹۲۹ کال د مې د میاشتې د ۲۳ مې نیټې سره سمون خوري، د موټر په ذریعه د افغانستان د پولې نه تیر او د چمن د سرحدي تهانې په وړاندې یې ځان انګریزي سرحدار ته وروپیژانده . د انګریزانو نائب السلطنه «لارد ایروین» ددغه خبر په ترلاسه کولو سره، چې معلومیده په بې صبرۍ سره یې د هغه انتظار ویسته، ناڅاپه چیغه کړه چې «بلاخره ... یې له شره خلاص شو».

وروسته له هغې چې غازي امان الله خان د هیواد پریښودو ته اړ شو، د هیواد یوائینې اورګاډې هم له کاره ولوید.





د دغه اورګاډي د ماشینونو پاتې شوي آثار اوس هم  په دارالامان کې د کابل د موزیم د انګړ شاته موجود دي .

هو! انګریزي استعمار نه غوښتل چې د بریتانوي هند په څنګ کې ورته یو قوي او پرمختللي افغانستان په غوړونو کې د خطر یو زنګ وي .دا ځکه چې د افغانستان پرمختګ او ترقي ایشیایي هیوادونو ته یومثال جوړیدلای شو، او انګریزانو  هغه په هندوستان کې خپلې واکمنۍ ته یو ستر ګواښ او تهدید باله .

په افغانستان کې د اصلاحاتو او اغتشاش د کتاب لیکونکې، لیون پولادا، عقیده لري چې د انګریزانو له نظره د امان الله خان فعالیتونوبریتانوي هند ته درې ګوني خطرات متوجه کول :  امان الله خان عقیده درلوده چې افغانستان د یوه خپلواکه دولت په توګه (دهغوې د ستر رقیب او دښمن) شوروي اتحاد سره د دوستانه روابطو د تاسیس حق لري .  همدا شان د یوه خپلواکه مسلمان دولت د پاچا وجیبه ده چې په هندوستان کې د خپلواسیرو مسلمانو ورونو ملاتړ وکړي. او په پای کې  د ډیورند د کرښې بلې خواته قبایلوسره د اړیکو ساتنه خپل حق ګڼي، کوم چې د افغانستان سره نژادي، مذهبي او تاریخي اړیکي لري، او بریتانیې د ۱۹۲۱ کال په تړون کې پدغه حقیقت اعتراف او  هغه یې د افغانستان طبیعي حق ګڼلې دئ .

له هغې ورځې چې غازي امان الله خان د هیواد له پولې تیر شو، درې ورځې تیرې شوې تر څو د بریتانوي هند حکومت د لندن سره  د سلا مشورې وروسته د افغانستان څخه د غازي امان الله خان د وتلو د خبر د خپرولوپه څرنګوالي تصمیم ونیسي . نو د ۱۹۲۹ کال د مې د میاشتې د ۲۷  مې نیټې په  سهار چې د ۱۳۰۸ کال د جوزا شپږمه نیټه وه، نړیوالو د ورځپاڼو او خبر رسوونکو آژانسونو له لارې د افغانستان څخه د غازي امان الله خان د وتلو خبر تر لاسه کړ .او د سید قاسم رشتیا په وینا تصادفي نه وه چې نادر خان د جوزا د میاشتې شپږمه نیټه، یعنې د افغانستان


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ښخه د غازي امان الله خان د وتلو د اعلان نیټه، پرته له کوم تاریخي او منطقي دلیل ښخه، د افغانستان د خپلواکۍ د تلین د ورځي د جشن په توګه لمانځلو.

[ددغه مطلب د کتلو او اوریدلو دپاره داځای کلیک کړئ.](http://youtu.be/KJ92Rb-qDMg)

http://youtu.be/KJ92Rb-qDMg

(پای)

## منابع


– بازنګری دورهٔ امانی و توطئه های انګلیس، عبدالرحمن زمانی، ۲۰۱۴.
– The Locomotive Magazine p262 1928-08-15
– Projected Afghan Railways, Railway Gazette International p686, November 1930
– 1928-09-18 IOL, LPS/10/1928 Afghan Series Serial no 117
– Leon B Poullada Reform & Rebellion in Afghanistan 1919 – 1929
– Railway Developments in Afghanistan, Railway Gazette p439, 1930-03-21
– An Afghanistan Railway Questions in Parliament, Railway Gazette p826, 1930-05-23
– Projected Afghan Railways Railway Gazette International p686 November 1930
– Railway Development in Afghanistan, Railway Gazette p141, 1931-07-31
– Japanese Engineers for Afghan Railways, Railway Gazette p382, 1931-09-18
– Railway Development in Afghanistan, Railway Gazette p61, 1932-01
– Afghan Railway Scheme, Railway Gazette p164, 1932-01-29




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ